Federal Office for
Immigration
and Asylum

# د بهرني اتباع د پاسپورټ غوښتنې لپاره
# د معلوماتو پاڼه

**د فرعي ملاتړ مستحقینو لپاره د لومړني هیواد پاسپورټ او د اقامت اجازې یا کارت سره سفر**

د اتریش د اقامت ډیری جوازونو او د لومړني هیواد د پاسپورټ په واسطه کولی شئ په آزادانه ډول د درې میاشتو مودې لپاره د سیاحت او ګرځیدو په موخه شنګن هیوادونو ته سفر وکړئ (مګر کار کول هلته مجاز ندي). د اقامت اجازې یا کارت ترڅنګ باید خپل پاسپورټ هم د ځان سره ولرئ. دا موضوع د اتریش ګاونډي هیوادونو او نورو شنګن هیوادونو ته د سفر په تړاو صدق کوي.

د اقامت هغه جوازونه د کومو سره چې د لومړني هیواد پاسپورټ په ملتیا درې میاشتو موده پورې شنګن هیوادونو ته سفر کولی شئ هغه عبارت دي له:

- د استوګنې او اقامت قانون پربنسټ د اقامت اجازه (د مثال په توګه لندمهاله اقامت اجازه، سور – سپین – سور کارت، سور – سپین – سور پلس کارت وغیره)
- د پناه غوښتنې قانون مطابق د نامحدود اقامت اجازه (د نا محدود اقامت اجازه، د نامحدود پلس اقامت اجازه، د ځانګړې حفاظت نامحدود اقامت اجازه)
- د فرعي ملاتړ مستحقینو لپاره کارت (خړ کارت)

**د بهرنی اتباع د پاسپورټ غوښتنې شرایط**

- د فرعي ملاتړ مستحقین چې نشي کولی خپل پاسپورټ ترلاسه کړي
- د تابعیت نلرونکي افراد یا د نا مشخص ملیت افراد چې قانوني اقامت لري
- نور بهرنیان په ځینې ځانګړي شرایطو کې، البته که صدور یې د جمهوري اتریش په ګټه وي. دا باید ثابت شي.
- **د ملاقات اخیستل:** مهرباني وکړئ د امکان په صورت کې، خپل ګرځنده تلیفون یا شخصي کمپیوټر په مرسته په آنلاین ډول دې لنک کې د ملاقات وخت واخلئ https://citizen.bmi.gv.at/at.gv.bmi.fnsetvweb-p/etv/public/bfa/Terminvereinbarung (د ملاقات اخیستل ټول اتریش کې شوني دي). **مهرباني وکړئ د هر فرد لپاره جلا ملاقات واخلئ.**
- د آنلاین ملاقات اخیستلو امکان نه شتون په صورت کې، په استثنایی مواردو کې د تلیفون له لارې هم ملاقات اخیستل کیدی شي (لنک): https://www.bfa.gv.at/Kontakt/start.aspx.
- **د اخیستل شوي ملاقات لپاره شخصي حضور لازمي دی.** (ټول غوښتونکي – ماشومان هم)
- **غوښتنه یواې د ملاقات ورځ کې مرجع ته وړاندې کیږي.**
- باید ټول راوړل شوي اسناد، **اصل وي یا هم د کاپي تایید شوې** بڼه یې باید وړاندې کړئ.

**د اړتیا وړ اسناد**

- 1**د پاسپورټ اوسنی انځور** (45 x 35 ملي متر فارمیټ) رنګه انځور (د اروپا اتحادیی انځور)، مقررات: https://www.bmi.gv.at/607/Passbild_Kriterien.aspx
- **د هویت اسناد او د اقامت حق سند:**
  - د فرعي ملاتړ مستحقینو لپاره: د هغه افرادو لپاره کارت چې فرعي ملاتړ یا د اقامت جواز لري
  - د تابعیت نلرونکي یا نامشخص ملیت افرادو لپاره: د اقامت جواز
  - د جمهوري اتریش د منلو وړ بهرني پاسپورټونو لپاره: د اقامت جواز
- **د شخصي وضعیت تصدیق،** که موجود وي (د زیږون تصدیق، د واده تصدیق (نکاح خط)، د شراکت تصدیق). د نوم د بدلون په صورت کې، دا بشپړ ضروري دي.
- که لازمي وي، **د بهرني اتباع مخکینی پاسپورټ** (دا مورد لغو کیږي) یا د غلا کیدو راپور
- د امکان په صورت کې، د تحصیلي درجې مستند اسناد یا د حرفه ای مهندسی اسناد
- د فرعي ملاتړ لرونکي او د جمهوري اتریش د منلو وړ د بهرني اتباع ځانګړي پاسپورټ لرونکي افرادو لپاره: **د دې ثبوت چې نشي کولی خپل پاسپورټ واخلي** (مثلاً د سفارت تایید) – پدې شرط چې منطقي وي
- د جمهوري اتریش د منلو وړ بهرني اتباع پاسپورټ په اړه: **د نورو شرایطو د پوره کیدو په تړاو شواهد او هغه څه چې د جمهوري اتریش د منلو وړ دي**

په انفرادي واردو کې، د پاسپورټ مرجع ممکن اضافي اسناد وغواړي – په ځانګړي توګه که چیرې هغوی د ډیټا د صحت (مثلاً املا) په اړه شک ولري.

**د ماشومانو لپاره اضافي اسناد**

- د دخیل والدین یا د هغوی د قانوني استازي د هویت اسناد
- د سرپرستي د ثبوت سند، که چیرې د هغوی مسؤلیت د والدین په غاړه نه وي.

**د دې ثبوت چې نشي کولی شخصي پاسپورټ واخلي**

د فرعي ملاتړ مستحقینو لپاره د بهرني اتباع پاسپورټ یوازې د هغه افرادو لپاره صادریږي چې نشي کولی خپل پاسپورټ ترلاسه کړي. دا چاره باید معمولاً ثابت شي (مثلاً د سفارت تایید سره). هیڅ ثبوت اړین ندی، که چیرې

- د لومړني هیواد سفارت یا کونسلګري په اتریش کې موجود نه وي، نو پدې دلیل نشي کولی پاسپورټ صادر کړي.
- په رسمي ډول مشخص شوي وي چې د اړوند هیواد سفارت په اتریش کې پاسپورټ نه صادروي.
- د ګواښ شتون چې د فرعي ملاتړ مستحق فرد وضعیت د دولت لخوا پیلامه اخلي ("دولتي تعقیب") یا دولت اصولاً د ملاتړ وړ وي مګر وې نشي کړی ("ملاتړ ته د دولت لیوالتیا نه درلودل").

**<u>لګښتونه</u>**

- 112.00 € یورو (د صدور لګښت) په نغدي ډول د 12 کلونو څخه ډیر عمر لرونکي غوښتونکو لپاره
- 44.00 € یورو تر 12 کلنۍ پورې ماشومانو لپاره
- 1. د 2 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومانو لپاره پاسپورټ وړیا دی

**وضاحت:** د لګښت تادیه کولو لپاره، د 200 € یورو او 500 € یورو نوټونه نه منل کیږي.

**<u>د اعتبار ساحه او موده</u>**

د بهرني اتباع پاسپورټ په استثنا د خپل لومړني هیواد د نړۍ ټولو هیوادونو لپاره معتبر دی.
د بهرني اتباع پاسپورټ د اقامت اجازې اکثر حد مودې لپاره صادریږي.

**<u>د میلمستیا د تردد ډیروالی په پام کې نیولو سره، د میلمستیا د مودی پیل کیدو څخه مخکې دفتر کې حضور، ته اړتیا نشته.</u>**

**آیا غواړئ د بهرني اتباع پاسپورټ لپاره غوښتنه وکړئ؟**
**بیا نو په اسانۍ سره آنلاین ملاقات واخلئ!**

<u>پدې توګه ترسره کیږي:</u>

1. خپل ځیرک تلیفون په مرسته د QR کوډ سکین کول
2. د ایالت انتخاب او د افرادو شمیر
3. د خپلو شخصي معلوماتو تکمیل
4. د یوه خالي وخت انتخاب

نور معلومات: [www.bfa.gv.at/Fremdenpass](http://www.bfa.gv.at/Fremdenpass)

BFA - Termin
Fremdenpass